ی. و. ستالين
ژباړه: فرهاد وياړ

## د ديالکتيک ماترياليزم او تاريخي ماترياليزم په اړه

(څلورمه برخه)

ج.) د ايده اليزم د اصولو پر خلاف چې د نړۍ د قوانينو او اصولو د معرفت شونتيا انکاروي او زموږ د پوهې په روغتيا ايمان نلري او په عيني حقيقت باور نلري او تصور کوي چې نړۍ له هغو «خپلواکو ذواتو» ډکه ده چې نشو کولای هغه د علم په وسيله وپيژنو؛ د مارکس فلسفي ماترياليزم نړۍ او د هغه قوانين په بشپړه توګه د پيژندني وړ ګڼي او وايي چې د طبيعت د قوانينو سره زموږ معرفت د تجربې او عمل له لارې لاسته راغلی او دا معرفت معتبر او د عيني حقايقو په کتار کې راځي او په نړۍ کې داسي يو څه چې د پيژندلو وړ نه وي، نشته؛ که چيرې داسي شيان وي چې نن موږ ته مجهول دي يوه ورځ به کشف او د علمي او عملي وسايلو سره به وپيژندل شي.

انګلس د کانت او نورو ايده اليستانو پر فرضيه، چې د دنيا د احوالو د پوهيدلو په نه شونتيا او په ناپيژندل شويو «خپلواکو ذواتو» باور لري، نيوکه کوي او له هغه مشهورې ماترياليستي نظريې څخه دفاع کوي چې وايي زموږ معرفت معتبره دی او داسي ليکي:

«د دې او د نورو فيلسوفانه بوالهوسيو د بطلان پريکنده دليلونه هماغه عمل، په تيره بيا تجربه او صنعت دی. کله چې موږ کولای شوو د يوې طبيعي پديدې په اړه د خپلې نظريې سموالی د هغې د رامنځته کولو په وسيله ثابت کړو، يعني هغه د ځانګړو شرايطو په مرسته يې جوړ کړو او خپل خدمت ته يې وګمارو، نو د دې سره توانيدلي يوو چې د کانت د «خپلواک ذات» بې معنی کيسه پای ته ورسوو. هغه کيميايي مواد چې د نباتاتو او حيواناتو د حياتي جوړښت څخه لاسته راځي يو وخت «خپلواکه ذوات» وو، خو همدا چې عضوي کيميا وکړای شول هغه جوړ کړي دا «خپلواک ذوات» موږ پورې په اړونده ذواتو باندې واوښتل، لکه د روناس يعني آليزارين رنګينه ماده چې نن هغه د پخوا په شان د روناس د بوټي له ريښې څخه چې په بيديا کې شنه کيږي، نه استخراجوو؛ بلکې په ډيره کمه بيه او په آسانۍ يې د سکرو د ډبرو له قطران څخه لاسته راوړوو. د کوپرنيک لمريزه منظومه، پوره درې سوه کاله له يوې فرضيې پرته بل څه نه وه او سره له دې چې ډيره د باور وړ فرضيه وه خو بيا هم يوه فرضيه وه، خو کله چې **لوريه** د هغو شميرو سره چې د همدې سيستم له مخې يې لرلې، نه يوازې دا چې د يوې سيارې شتوالي چې تر هغه وخت پورې مجهوله وه، ثابت کړ؛ بلکې د حساب سره د دې سيارې ځای د سماواتو په منځ کې هم معلوم کړ او کله چې

ګاله (Galle) دا سیاره پیدا کړه، د کوپرنیک منظومه ثابت شوه.» ( ک. مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۲۳۰ مخ).

لنین، د بوګدانف، بازاروف، یوشکویچ او د ماخ د نور پلویانو په شان کسان د فیدئیزم (هغه ارتجاعي نظریه چې د علومو په پرتله د ایمان په لومړیتوب باور لري) له اصولو څخه په پیروي تورنوي او د ماتریالیزم له مشهورې نظریې څخه چې د طبیعي قوانینو په اړه زموږ علمي معلومات معتبر شمیري او عملي قوانین عیني حقیقت ګڼي، دفاع کوي او وایي:

«د اوسني عصر فیدئیزم په هیڅ ډول علم نه نفي کوي، بلکې د علم «له حده زیاته دعوا» چې د عیني حقیقت د شتوالي دعوی ده، نفي کوي. که په رښتیا هم (څرنګه چې ماتریالیستان باور لري) عیني حقیقت وجود ولري، که په رښتیا طبیعي علوم، چې بهرنۍ دنیا په بشري «تجربیاتو» کې منعکسوي، هغه یوازیني علوم وي چې کولای شي عیني حقیقت ښکاره کړي نو بیا هر ډول فیدئیزم په مطلق ډول ردیږي.» ( لنین، ۱۳ ټوک، ۱۰۲ مخ، روسي چاپ).

دا د مارکسیستي فلسفي ماتریالیزم ځانګړنې دي.

د دې سره په آسانۍ دې پایلې ته رسیږو چې د ټولنیز ژوندانه او د ټولنې د تاریخ په مطالعه کې د فلسفي ماتریالیزم د اصولو غزول څومره زیات اهمیت لري او تر کومه حده پورې د ټولنې په تاریخ او د پرولتاریایي ګوند په عملي فعالیت کې د دې اصولو تعمیمول څومره مهم دي.

که د طبیعي پدیدو تر منځ اړیکي او د هغوی متقابل مشروطیت، د طبیعت د تکامل قطعي قوانین دي نو بیا د ټولنیز ژوند د پدیدو تر منځ اړیکي او متقابل مشروطیت هم احتمالي او ناڅاپي نه، بلکې د ټولنې د تکامل اړین قوانین دي.

نو له دې امله ټولنیز ژوند او د هغې تاریخ د «تصادفاتو» د تراکم ټولګه نه ده، ځکه د ټولنې تاریخ عبارت دی د معینو قوانینو پر بنسټ د ټولنې د تکاملي بهیر څخه او د ټولنې د تاریخ ارزونه په علم بدلیږي.

نو د پرولتاریا ګوند عملي فعالیت نباید د «مخورو کسانو» د ستاینې وړ تمایلاتو پر اساس یا « دعقل تقاضا» او «عمومي اخلاق» او داسې نورو شیانو پر بنسټ ولاړ وي، بلکې د ټولنیز تکامل قوانین او په دې قوانینو کې مطالعه باید د دې فعالیت اساس او بنسټ جوړ کړي.

او بیا که په رښتیا نړۍ د پیژندنې وړ ده او د طبیعت د تکامل د قوانینو په اړه زموږ معلومات معتبر او د عیني حقایقو په کتار کې دي، نو ژوند او ټولنیز تکامل هم د پیژندنې وړ دی او د ټولنیز تکامل د قوانینو په اړه علمي احکام هم معتبر احکام او د عیني حقایقو په کتار کې راځي.

نو له همدې امله د ټولنې د تاریخ علم، د ټولنیز ژوندانه د پدیدو د ټولې پیچلتیا سره، کیدای شي د بیولوژۍ په شان یو دقیق علم شي چې د ټولنیز تکامل د علمي قوانینو د تطبیق لپاره د کارولو وړ شي.

نو د پرولتاریا ګوند نباید په خپل عملي فعالیت کې تصادفي دلایل د خپلو فعالیتونو لارښود وګرځوي، بلکې لازمه ده چې د ټولنې د تکامل له قوانینو او له دې قوانینو څخه لاسته راغلیو عملي پایلو څخه پیروي وکړي.

نو همدا دی چې سوسیالیزم د بشر د راتلونکي لپاره د زړه کښونکي رویا څخه په علم بدلیږي.

او له همدې امله د علم او عملي فعالیت تر منځ اړیکه، د تیوري او عمل او وحدت تر منځ اړیکه، باید د پرولتاریا د ګوند لارښوده ستوري وي.

نو، کله چې طبیعت، ژوند او مادي نړۍ لومړی مقام او شعور او تفکر دویم مقام ولري او له لومړني څخه مشتق شوي وي او که مادي نړۍ عیني حقیقت دی او شعور پورې تړلې نه ده او شعور د دې عیني حقیقت انعکاس دی، نو بیا دې پایلې ته رسیږو چې د ټولنې مادي حیات او ژوند هم په لومړي درجه کې او معنوي ژوند په دویمه درجه کې

او له هغې څخه مشتق شوی دی او د ټولنې مادي حیات عیني او د انسان له ارادې څخه بهر یو واقعیت دی، په داسې حال کې چې د ټولنې معنوي ژوند د دې عیني حقیقت انعکاس او همدا ډول د ژوند انعکاس دی.
نو، نباید د ټولنې د معنوي حیات د جوړښت سرچینه او د ټولنیزو تیوریګانو او نظراتو او د سیاسي سازمانونو د عقایدو اساس په خپله نظراتو او تیوریګانو او اندونو او سیاسي سازمانونو کې ولټوو، بلکې باید د ټولنې د مادي ژوند په شرایطو او د هغې ټولنې په وجود کې ولټوو چې دا اندونه، تیوریګاني او نظرات د هغې انعکاس دی.
نو، که چیرې د ټولنې د تاریخ په بیلابیلو پیرونو کې، مختلف ټولنیز نظرات او اندونه او بیلابیل سیاسي سازمانونه او عقاید لیدل کیږي او که د بردګۍ رژیم پر مهال له یو ډول اند، ټولنیزه تیوري، نظریه او سیاسي سازمان سره مخامخ کیږو او د فیوډالیزم پر مهال له یو بل ډول او همدا ډول د پانګوالۍ په پیر کې د دې عقایدو او ټولنیزو تیورګانو دریم ډول ګورو؛ لامل یې په خپله اندونو، تیوریګانو، نظراتو او د سیاسي سازمانونو په «طبیعت» او «خاصیت» کې اختلاف نه دی، بلکې لامل یې د ټولنیز تکامل په بیلابیلو پیرونو کې د ټولنې د مادي حیات بیلابیل شرایط دي.
څرنګه چې د ټولنې د مادي حیات شرایط او ژوند وي، ایدې او تیوریګانې او سیاسي نظرات او سیاسي سازمانونه به هم همغه شان وي.
مارکس په دې اړه لیکي:
«څه چې د خلکو ژوند ټاکي، بشري شعور نه دی؛ بلکې بالعکس ټولنیز ژوند دی چې د بشر شعور ټاکي.» (ک. مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۳۲۹ مخ، روسي چاپ).